# رسول الله صلى الله عليه وسلم به د دوو سجدو تر مینځه وییل. یعنې "اې الله، ما ته بخښنه وکړه، پر ما رحم وکړه، ما ته روغتیا راکړه، لارښوونه راته وکړه، او روزي راکړه

له ابن عباس - رضي الله عنهما - څخه روایت دی چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم به د دوو سجدو تر مینځه وییل. یعنې "اې الله، ما ته بخښنه وکړه، پر ما رحم وکړه، ما ته روغتیا راکړه، لارښوونه راته وکړه، او روزي راکړه".

رسول الله صلى الله عليه وسلم به په خپل لمانځه کې د دوو سجدو تر مینځه په دغو پنځو دعاګانو سره دعا کوله چې مسلمان ورته سخته اړتیا لري او د دنیا او آخرت خیر پکې دی لکه: د بخښنې غوښتل، د ګناهونو پټول او بنده ته ترې تېرېدل، بشپړ رحمت، له شکونو، خواهشاتو، ناروغیو او مرضونو څخه نجات، د حق لپاره له الله جل جلاله څخه مرسته غوښتل او پرې ثابت پاتې کېدل، او د ایمان، علم، نیک عمل او پاکیزه حلال مال رزق غوښتل.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/10930

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee